**د کالیفورنیا زده‌کوونکو او کورنیو لپاره ډېرې پوښتل کېدونکې پوښتنې**
وروستی اپډېټ: د 2026 کال د اکتوبر 16مه

## 1. څه پېښ شوي، او ETS څوک دی؟

ETS د ارزونې یو غیرانتفاعي سازمان دی چې د کالیفورنیا له ایالت سره په قرار داد کې دی، ترڅو د کالیفورنیا په دولتي ښوونځیو کې ټولو شاملو زده‌کوونکو ته هغه ازموینې چمتو کړي چې د ایالتي او فدرالي قوانینو له مخې الزامي دي. ETS د کالیفورنیا د ایالت په کچه د ارزونې له پروګرامونو ملاتړ کوي، چې په هغې کې د کالیفورنیا د زده‌کوونکو د کړنو او پرمختګ ارزونه (CAASPP) او د کالیفورنیا لپاره د انګلیسي ژبې د مهارت ارزونې (ELPAC) شاملې دي.

د 2026 کال د سپټمبر په 25مه نېټه، ETS د فایلونو د لېږد په یوه خوندي پروتوکول (SFTP) سایټ کې غیرمجاز فعالیت کشف کړ؛ دا سایټ له CDE (د کالیفورنیا د پوهنې اداره) سره د کالیفورنیا په کچه د ارزونو د معلوماتو د تبادلې لپاره کارول کېده.

ETS اړوند حساب غیرفعال کړ، اغېزمن شوی SFTP سایټ یې له شبکې (آنلاین حالت) وایست، او د سایبري امنیت له بهرنیو متخصصینو سره یې پلټنه پیل کړه. پلټنو وښودله چې یوه غیرمجاز لوري د 2026 کال د مې له 22مې نېټې څخه د سپټمبر تر 18مې نېټې پورې په بېلابېلو وختونو کې د حساب د هک شویو ننوتلو معلوماتو په کارولو سره سایټ ته لاسرسی موندلی او د کالیفورنیا د زده‌کوونکو د معلوماتو لرونکې دوتنې یې کاپي کړې دي.

د قانون پلي کوونکو ادارو او سایبري امنیت متخصصینو سره تر ګډ کار وروسته، ETS د دې احتمالي خطر د کمولو لپاره ګامونه پورته کړي دي ترڅو دا معلومات په عامه توګه خپاره او د لاسرسي وړ نشي.

ETS تر نن ورځې پورې د انټرنېټ د منظمې څارنې له لارې داسې هېڅ شواهد نه دي موندلي چې دا معلومات دې عامو خلکو ته افشا یا خپاره شوي وي.

## 2. کوم معلومات اغېزمن شوي وو؟

د کالیفورنیا د زده‌کوونکو معلوماتو ته لاسرسی شوی او هغه کاپي شوي دي. په دغو معلوماتو کې د ټولو هغو زده‌کوونکو معلومات هم شامل دي چې په تېرو دریو ښوونیزو کلونو کې په ښوونځیو کې شامل وو، خو دا معلومات یوازې تر دغو زده‌کوونکو پورې محدود نه دي. په هغو معلوماتو کې چې لاسرسی ورته شوی و او کاپي شوي وو، د زده‌کوونکو د وګړنیزو ځانګړنو، په پروګرامونو کې د هغوی د ګډون او ارزونو اړوند معلومات شامل وو چې ETS یې د کالیفورنیا په ټول ایالت کې د ارزونې د پروګرامونو په تړاو ساتي.

د زده‌کوونکو هغه معلومات چې لاسرسی ورته شوی او کاپي شوي دي له یوه کس څخه تر بل کس پورې توپیر لري، خو کېدای شي لاندې موارد په کې شامل وي:

- د زده‌کوونکي نوم، د زېږېدو نېټه، د استوګنې پته، ښوونځی، ښوونیزه حوزه او د ټولګي کچه.
- د ایالت په کچه د زده‌کوونکي پېژندشمېره (SSID) او د زده‌کوونکي سیمه‌ییزه پېژندشمېره. د ایالت په کچه د زده‌کوونکي پېژندشمېره (SSID) یوه ځانګړې، تصادفي 10 رقمي شمېره ده چې د کالیفورنیا د K-12 عامه ښوونیز سیستم کې یو انفرادي زده‌کوونکي ته ورکول کېږي. په www.cde.ca.gov/ds/sp/cl/ssid.asp کې نور معلومات ترلاسه کړئ.
- وګړنیز معلومات، په کې جنسیت، نژاد یا توکم، اصلي ژبه، د اصلي مېشتېدنې هېواد، او د انګلیسي ژبې د زده‌کوونکي په توګه وضعیت.

- د معلولیت وضعیت او 504 ماده وضعیت، د ازموینو پر مهال ځانګړي اسانتیاوې، او د لومړني معلولیت ډول.
- د لاندې پروګرامونو لپاره د شرایطو د پوره کولو (وړتیا) وضعیت: د لومړي عنوان A برخه؛ د لومړي عنوان C برخه؛ McKinney-Vento؛ او له پوځ سره تړلی زده‌کوونکی؛ او/یا
- د انګلیسي ژبې د مهارت معلومات او د ایالت په کچه په ارزونو کې د نوم‌لیکنې، ګډون او پایلو معلومات (په اړوندو مواردو کې).

د ټولو زده‌کوونکو په فایلونو کې دا ټول ذکر شوي معلومات شامل نه وو.

**هغه معلومات چې لاسرسی ورته شوی او کاپي شوي دي، د ټولنیز خوندیتوب شمېرې، د موټر چلولو د جواز شمېرې، د پاسپورټ شمېرې، د مالي حسابونو معلومات، د کریډیټ یا ډېبیټ کارتونو معلومات، یا د حسابونو پټنومونه نه دي شامل کړي.** دا پېښه د مور، پلار یا سرپرست له شخصي معلوماتو سره هېڅ تړاو نه لري.

د قانون پلي کوونکو ادارو او سایبري امنیت متخصصینو سره تر ګډ کار وروسته، ETS د دې احتمالي خطر د کمولو لپاره ګامونه پورته کړي دي ترڅو دا معلومات په عامه توګه د لاسرسي وړ نشي.

ETS تر نن ورځې پورې د انټرنیټ د منظمې څارنې له لارې داسې هېڅ شواهد نه دي موندلي چې دا معلومات دې عامو خلکو ته افشا یا خپاره شوي وي.

3. **زه به څنګه پوه شم چې زما یا زما د ماشوم معلوماتو ته لاسرسی شوی او کاپي شوي دي؟**

ETS د CDE په لارښوونه هغه اغېزمن شوي زده‌کوونکي او کورنۍ خبروي چې معلوماتو ته یې د پېښې په ترڅ کې لاسرسی شوی او کاپي شوي دي.

که تاسو د دې پېښې په اړه د خبرتیا لیک او/یا ایمیل ترلاسه کړئ، دا پدې معنی ده چې ستاسو او/یا ستاسو د زده‌کوونکي معلومات په پورته یاد شویو افشا شویو فایلونو کې شامل وو.

د خبرتیا لیک نه ترلاسه کول الزامي نه ده چې پدې معنی وي چې ستاسو او/یا ستاسو د زده‌کوونکي معلومات نه دي اغېزمن شوي.

اغېزمن شوي کسان د کالیفورنیا په دولتي ښوونځیو کې له 2023 کال څخه تر اوسني ښوونیز کال پورې شامل اوسني او پخواني زده‌کوونکي دي، او همدا راز هغه زده‌کوونکي چې له 2006 کال راهیسې له کالیفورنیا ښوونځي څخه وتلي او CDE ته یې بل ښوونځي ته د خپل لېږد (تبدیلۍ) تصدیق نه دی ورکړی.

په خبرتیا کې وضاحت ورکړل شوی چې څه پېښ شوي، کوم ډول معلومات شامل دي، ایالت کوم ګامونه پورته کوي، ETS څه ګامونه پورته کوي، د هویت ساتنې کوم خدمتونه شتون لري، او تاسو په خپله د خپلو شخصي معلوماتو د خوندیتوب لپاره څه ګامونه پورته کولی شئ.

4. **ایا دا پېښه پخواني زده‌کوونکي (د هغو کسانو په ګډون چې اوس لویان/بالغان دي) هم اغېزمنوي؟**

هو. دا پېښه کېدای شي پخواني زده‌کوونکي هم اغېزمن کړي، په دې کې د هغو کسانو شتون شامل دی چې په تېرو درېو ښوونیزو کلونو کې د کالیفورنیا په ښوونځیو کې شامل وو.

اغېزمن شوي پخواني زده‌کوونکي، د هغوی په ګډون چې اوس لویان دي، د وړیا هویت ساتنې خدمتونو مستحق دي که چیرې د دوی معلومات د پېښې په ترڅ کې کاپي او لاسرسی ورته شوی وي.

## 5. څوک د هویت ساتنې له وړیا خدمتونو ګټه اخیستلی شي، او څنګه ثبت نام وکړم؟

ETS اغېزمن شویو اوسنیو او پخوانیو زدهکوونکو ته چې معلوماتو ته یې لاسرسی شوی او کاپي شوي دي، د Experian IdentityWorks د هویت ساتنې 24 میاشتني خدمتونه په وړیا توګه وړاندې کوي.

د خدمتونو دوه کټګورۍ شتون لري:

- **تر 18 کلونو کم عمره کسان:** والدین یا قانوني سرپرستان کولی شي اغېزمن شوي زدهکوونکي په Experian IdentityWorks Minor Plus کې ثبت نام کړي. د دې محصول لپاره د نوملیکنې وروستۍ نېټه د 2027 کال د مارچ 19مه یا تر هغې مخکې ده. **د نوملیکنې لپاره د Experian IdentityWorks ویبپاڼه پرانیزئ:** [www.experianidworks.com/minorplus](http://www.experianidworks.com/minorplus).

هغه اغېزمن شوي کم عمره کسان چې د 2029 کال د مارچ له 19مې مخکې 18 کلنۍ ته رسیږي، کولای شي د 18 کلنۍ په پوره کېدو سره د هغه فعالولو کوډ په کارولو چې له خبرتیا سره چمتو شوی، د لویانو محصول کې نوملیکنه وکړي

- **18 کلن او تر هغه پورته لویان:** اغېزمن شوي بالغان، د پخوانیو زدهکوونکو په ګډون، کولی شي په مستقیم ډول په Experian IdentityWorks کې نوملیکنه وکړي. د دې محصول لپاره د نوملیکنې وروستۍ نېټه د 2027 کال د مارچ 19مه یا تر هغې مخکې ده. **د نوملیکنې لپاره د Experian IdentityWorks ویبپاڼه پرانیزئ:** [www.experianidworks.com/identity](http://www.experianidworks.com/identity).

د ثبت نام لارښوونې، د ویبپاڼې او فعالولو کوډ په ګډون، د خبرتیا له پاڼې سره لېږل شوي دي [www.cde.ca.gov/ets](http://www.cde.ca.gov/ets).

**نوملیکنه اغېزمن شوي کس ته په وړیا توګه چمتو کیږي او د کریډیټ کارت شتون ته هېڅ اړتیا نشته.**

سربېره پردې، Experian هغو مستحقو اغېزمن شویو کسانو ته چې د هویت له غلا سره مخ کیږي، د هویت د بیا رغونې مرستې هم وړاندې کوي. دا مرسته د خبرتیا له نېټې څخه وروسته تر 24 میاشتو پورې د لاسرسي وړ ده او د ځانګړې په خدمتونو کې مخکینۍ نوملیکنې ته اړتیا نه لري.

## 6. که زه د خبرتیا لیک ترلاسه نه کړم نو څه به کیږي؟

**د خبرتیا لیک نه ترلاسه کول الزامي نه ده چې پدې معنی وي چې ستاسو معلومات نه دي اغېزمن شوي.** ممکن ځینې اوسنې او پخوانې زدهکوونکي د خبرتیا لیک ترلاسه نه کړي، په ځانګړې توګه که د هغوی د اړیکې شمېرې یا پته بدله شوې وي.

اغېزمن شوي کسان د کالیفورنیا په دولتي ښوونځیو کې له 2023 کال څخه تر اوسني ښوونیز کال پورې شامل اوسنې او پخوانې زدهکوونکي دي، او همدا راز هغه زدهکوونکي چې له 2006 کال راهیسې له کالیفورنیا ښوونځي څخه وتلي او CDE ته یې بل ښوونځي ته د خپل لېږد (تبدیلۍ) تصدیق نه دی ورکړی.

د هویت ساتنې خدمتونو په اړه د معلوماتو او مرستې ترلاسه کولو د لارښوونو لپاره له [www.cde.ca.gov/ets](http://www.cde.ca.gov/ets) څخه لیدنه وکړئ.

**7. اغېزمن شوي کسان د خپلو معلوماتو د خونديتوب لپاره څه کولای شي؟**

موږ اغېزمن شوي کسان هڅوو چې د هويت ساتنې په خدمتونو کې د نوملیکنې په اړه غور وکړي او د زده‌کوونکو له شخصي معلوماتو څخه د احتمالي ناوړه ګټې اخیستنې په اړه هوښیار او بیدار واوسي.

تل غوره ده چې د هغو ناڅاپي برېښنالیکونو (ایمیلونو)، پیامونو، یا ټلیفوني اړیکو په اړه محتاط او هوښیار واوسئ چې د زده‌کوونکي د ښوونځي، ایالتي ارزونو یا د دې پېښې یادونه کوي. که د داسې پیغام یا ټیلیفوني اړیکې له لارې معلومات درڅخه وغوښتل شي چې تاسو يې غوښتنه نه وي کړې، خپل شخصي معلومات، پټنومونه یا مالي معلومات مه ورکوئ. د هويت ساتنې خدمتونو کې د نوملیکنې لپاره د شخصي معلوماتو له دننه کولو مخکې د وېب‌پاڼې موثقیت او ادرس وڅېړئ.

لویان کولای شي د www.annualcreditreport.com وېب‌پاڼې یا له 1-877-322-8228 شمېرې سره د اړیکې له لارې وړیا کریډیټ راپورونه ترلاسه کړي. لویان همدا راز کولی شي د خپلو کریډیټ دوتنو پر مخ وړیا امنیتي بندیز ولګوي.

والدين او سرپرستان هم کولی شي د خپلو هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه يې تر 16 کلونو کم دي، د وړیا کریډیټ بلاک کولو غوښتنه وکړي ترڅو د هغوی په نوم د غیرقانوني او غیرمجاز حسابونو د پرانیستلو مخه ونیول شي.

د کریډیټ راپورونو، تقلب خبرداریو، او کریډیټ بلاک کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره له لاندې ادارو سره اړیکه ونیسئ:

- Equifax: 800-685-1111 | www.equifax.com
- Experian: 888-397-3742 | www.experian.com
- TransUnion: 833-799-5355 | www.transunion.com

که څه هم د ټولنیز خوندیتوب شمېرې او مالي حسابونه په دې پېښه کې شامل نه وو، د شخصي معلوماتو د خونديتوب لپاره د احتیاطي تدابیرو نیول ډېر اړین دي.

**8. زه څنګه پوهېدلی شم چې د دې پېښې په اړه اړیکې موثقې او رښتینې دي؟**

د هغو ناڅاپي برېښنالیکونو، ټلیفوني زنګونو یا پیامونو په اړه ډېر محتاط واوسئ چې ادعا کوي د دې پېښې په اړه د ETS، CDE، یا Experian له خوا دي.

**د ناغوښتل شويو غوښتنو په ځواب کې د ټولنیز خوندیتوب شمېرې، پټنومونه، مالي معلومات، یا نور حساسي شخصي معلومات مه ورکوئ.**

اغېزمن شوي کسان به په خپلو خبرتیا لیکونو کې د هويت ساتنې په وړیا خدمتونو کې د نوملیکنې لارښوونې ترلاسه کړي www.cde.ca.gov/ets.

**نوملیکنه کاملاً وړیا ده او د کریډیټ کارت معلوماتو ته اړتیا نه لري.**

که تاسو ډاډه نه یاست چې ایا یوه اړیکه او خبرتیا اصیله او د باور وړ ده که نه، د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د CDE له رسمي وېب‌پاڼې www.cde.ca.gov/ets څخه لیدنه وکړئ.

**9. ETS او ایالتي حکومت د دې پېښې د ځوابولو او په راتلونکي کې د داسې پېښو د مخنیوي لپاره څه کوي؟**

د پېښې له موندلو وروسته، ETS د SFTP سایټ د امنیت د پیاوړتیا لپاره ګڼ شمېر اقدامات کړي دي، چې پکې د SFTP سایټ له شبکې څخه ایستل او له پیاوړو امنیتي کنټرولونو سره د یوه بشپړ نوي SFTP سایټ جوړول شامل دي. ETS د نورو هغو امنیتي ګامونو ارزوني ته دوام ورکوي چې ښایي مناسب وي.

ETS د قانون د پلي کولو له ادارو او د سایبري امنیت له متخصصینو سره تر ګډ کار وروسته، د دې احتمالي خطر د کمولو لپاره ګامونه پورته کړي دي چې معلومات عامو خلکو ته د لاسرسي وړ شي. سربېره پر دې، ETS د انټرنیټ د منظمې څارنې له لارې تر نن پورې داسې هېڅ ثبوت نه دی موندلی چې دا معلومات دې عامو خلکو ته خپاره شوي وي.

د کالیفورنیا د پوهنې اداره (CDE) او د ښوونې او روزنې ایالتي بورډ (SBE) د سایبري امنیت له ایالتي متخصصینو سره کار کوي ترڅو د کالیفورنیا پر زده‌کوونکو او کورنیو د دې پېښې اغېزې وڅېړي او ډاډ حاصل کړي چې اغېزمن کسان مناسب معلومات او ملاتړ ترلاسه کوي.

د کالیفورنیا د سایبري امنیت د ادغام مرکز (Cal-CSIC) د ډیجیټلي شواهدو او عدلي تحلیل او پېښې ته د غبرګون ښودلو په برخه کې مرسته کوي. د کالیفورنیا د ټیکنالوژۍ اداره (CDT) او د بېړنیو خدمتونو په برخه کې د کالیفورنیا د والي دفتر (Cal OES) هم د ایالت له تخنیکي، حقوقي او عملیاتي غبرګون څخه ملاتړ کوي.

د کالیفورنیا د پوهنې ریاست (CDE) او د پوهنې دولتي بورډ (SBE) دا پېښه او د ETS له لوري د معلوماتو د امنیت او قراردادي شرایطو اړوندو غوښتنو رعایت ارزوي.

**10. ولې ETS دغو معلوماتو ته لاسرسی درلود؟**

ETS د ارزونې یو غیرانتفاعي سازمان دی چې د کالیفورنیا له ایالت سره په قرار داد کې دی، ترڅو د کالیفورنیا په دولتي ښوونځیو کې ټولو شاملو زده‌کوونکو ته هغه ازموینې چمتو کړي چې د ایالتي او فدرالي قوانینو له مخې الزامي دي.

ETS د کالیفورنیا د ایالت په کچه د ارزونې پروګرامونو په تړاو د زده‌کوونکو د وګړنیزو ځانګړنو، په پروګرامونو کې د ګډون، او ازموینو له ارزونې پورې اړوند ټول ډاټا ساتي.